مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۱/۱۱/۰۲

# د ډار خپسه

اوږدې جګړې،

ډېرو وژنو

او د وينو سيلاو

زما وجود، زما ارواح ته يو لوی ډار راوستی

چې اوس هرڅه ولوليږي غږ يې جګ شي

وايم چاودنه وشوه

تالانده هسې د چاودنې خوږ ده

خو کوم باران چې بيا تر تالندې نه وروسته کېږي

زه له هغه نه هم دارېږم، تښتم

زما د ککرې، د ګومبزي ګودام ډار نه ډک دی

د ډار خپسه چې مې پر روح پرته ده

راته يې وايي دا باران مرمی دي

زه يې ګنم چې باران هرڅه مينځي

خو باران وچې ويني بيا راته تازه کړلي سېلاو يې راوست

د کلي ښار تول ديوالونه کوڅې سرې شولې کړاو يې راوست

۲۰۲۱/۰۷/۲۷
هېدرسليف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بنی پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ